د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او
درسي کتابونو د تالیف ریاست

# حدیث شریف

## اووم ټولګی

د چاپ کال:۱۳۸۸ هـ . ش.

د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا او
درسي کتابونو د تاليف رياست

# حديث شريف

## اووم ټولګی

درسي کتابونه دپوهنې په وزارت پورې اړه لري په بازار کې يې اخيستنه او
خرڅونه په کلکه منعه ده. له سر غړوونکو سره قانوني چلند کيږي.

د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ . ش.

# د بیاکتنې کمېټې

## د ژبې او محتوی کمېټه:

- دکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار
- مؤلف دکتور احسان الله د اسلامي علومو د دیپارتمنت آمر
- سر مؤلف بسم الله «بختیار» د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.
- مؤلف مولوی شیر احمد «مسعودي» د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی
- رقیب الله «ابراهیمي» د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.
- د مؤلف مرستیال سخي جان «احمدزی» د عربي ژبې د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

## تصحیح او بیا کتنه:

- استاد قیام الدین کشاف.

## دیني، سیاسي او فرهنګي کمېټه:

- دکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار
- محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

# د څارنې کمېټه

– دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ساینس مرکز او د خپرونو مرستیال. دکمېټې رئیس

ـ محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.

ـ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستانی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.

## کمپوز او ډیزاین:

- رقیب الله ابراهیمي او حمیدالله غفاری

بسم الله الرحمن الرحيم

## پیغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت دکلکې ارادې، بیدریغه قربانیو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نیکو هلوځلو په پایله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سیاسي نظام ټینګ شو او له جګړې څخه را پیدا شوی ځوکلن کړاو یې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوریت او په سرکې یې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنیز نظام لـه پېل څخه ملي سترو مـــوخو ته د رسېدو په هیله د هېواد د بیارغاونې او پراختیا په ټولو برخوکې د نـوو پروګرامونو تګلاره پېل کړې ده. د ښوونې او روزنـې پـه برخـه کـې او د معـارف د نـوي کیـدو او غوړېدو په لاره کې هڅې، د ملي یووالي، متمدنو، رښتینو او د پیاوړو مسلمانانو پـه توګـه د نـوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زیات ملاتړ او زړه سـواندې لارښـوونې چـې تـر تطبیق لاندې دي د ډېرې درناوي وړ دي.

دپوهنې وزارت دهغو لارښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې دافغانستان دپوهنې د بیارغاونې په لاره کې یې ترلاس لاندې لري، د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتـابونو د تـالیف ریاسـت تـه دنـده ورکړې ده چې له یوې خوا د ښوونځیو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لرې کړي او له بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پالیسۍ اوموخـو پـه رڼـا کـې د داسې واحد تعلیمي نصاب په ترتیبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو ته ځـواب ووایي. زموږ نوی تعلیمي نصاب چې د افغانې ټولنې له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره عیـار شـوی، موخه یې د هېواد د بچیانو اسلامي اوعلمي روزنه اوزده کړه ده چې په نتیجه کې یې دپـوهنې د زده کوونکو، ماشومانو، تنکیوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پیاوړی او هغوی د نوې پوهې له ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان باید متدین مسلمانان، هیوادپال، بشرپال او د پوهې او کمال پر ګاڼه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختیا او معاصر تمدن له پرمختـګ سـره اشنایي ترلاسه کړي او په ټینګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخه چې رامنځته شـوي دي ګټه واخلي. دنوي افغانستان او د یوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د سـاینس او تکنـالوژۍ لـه بدلونونو سربېره باید د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونـو د سـاتنې، سـولې، هېوادپـالنې، ملـي یوالي، د استوګنې د سالم چاپېریال د ساتنې اوسوله ییز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل له تورتم او د مخدره توکو له تولید او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړوپه سرکې په پام کې ونیسي.

موږ له رښتینو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په تطبیق کې د هېواد د بچیانو د زده کړې او روزنې سترمسؤلیت پر غاړه لري او دغه راز د هېواد د پوهنې د برخـې له نورو علمي، فرهنګي شخصیتونو او پوهانو څخه هیله لرو چې د خپلو رغنده نظرونو او وړاندیزونو په وړاندې کولو سره زموږ له لیکوالو سره د درسي کتابونو په لیکلـو او پیـاوړي کولـو کـې مرسـتې وکړي. په همدې ډول له تمویلوونکـو هېوادونـو او درنـو سـازمانونو (د امریکـا د متحـده ایـالتونو د نړیوالې پراختیا اداره، دانیدا، یونیسف، نړیوال بانـک اویونیـسکو)څخـه چـې دکتـابونو پـه تـالیف او چاپولوکې یې د پوهنې له وزارت سره مادي اوتخنیکي مرسته کړې ده مننه کوو. له ټولو ګرانو زده کوونکو، درنو ښوونکو او محترمو میندو پلرونو څخه هیله کوو چې د درسي کتابونو پـه ښـه سـاتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

**فاروق وردک**

دافغانستان داسلامي جمهوریت دپوهنې وزیر

# فهرست


| شمېره | سرليکونه | مخونه |
|---|---|---|
| ۱ | د حديث د علم تعريف، موضوع او غرض | ۱ |
| ۲ | د حديث ډولونه | ۳ |
| ۳ | په عمل کې اخلاص | ۵ |
| ۴ | اسلام – ايمان – او احسان | ۷ |
| ۵ | حياء | ۱۴ |
| ۶ | پر کتاب الله او سنت باندې عمل کول | ۱۷ |
| ۷ | د علم فضيلت | ۲۰ |
| ۸ | نظافت او پاکوالی | ۲۳ |
| ۹ | لمونځ | ۲۵ |
| ۱۰ | دروژې فضيلت | ۲۷ |
| ۱۱ | زکات | ۲۹ |
| ۱۲ | حج | ۳۱ |
| ۱۳ | جهاد | ۳۳ |
| ۱۴ | د مسلمانانو حقوق | ۳۵ |
| ۱۵ | د مور او پلار حقوق | ۳۷ |
| ۱۶ | دګاونډي حقوق | ۳۹ |
| ۱۷ | دښځې حقوق | ۴۱ |
| ۱۸ | پر اولادونو باندې شفقت او مهرباني کول | ۴۳ |
| ۱۹ | حلال کسب | ۴۵ |
| ۲۰ | د ډوډی خوړلو آداب | ۴۷ |
| ۲۱ | د اوبو څښلو آداب | ۴۹ |
| ۲۲ | دمجلس آداب | ۵۱ |

# د حديث د علم تعريف موضوع او غرض

**د حديث د علم تعريف:** حديث په لغت کې خبرې ته وايي او په اصطلاح کې له هغه علم څخه عبارت دی چې په هغه کې د رسول الله ﷺ له قول، فعل او تقريرنه بحث کېږي ۱

## د حديث د علم موضوع:

دحديث د علم موضوع د رسول الله ﷺ قول، فعل او تقرير[1] ده.

## د حديث د علم غرض:

د حديث د علم غرض د رسول الله ﷺ متابعت او پيروي ده چې په زده کړې او عمل سره يې مسلمانانو ته د دنيا او آخرت کاميابي حاصلېږي.

# د حديث د علم تدوين

د رسول الله(ص) احاديث، د رسول الله ﷺ او خلفاء راشدينو په زمانه کې د کتاب په بڼه تدوين شوي نه دي بلکې د احاديثو را غونډول او تدوين د اموي خليفه عمر بن عبدالعزيز د خلافت په زمانه کې چې په عمر ثاني يعنې دوهم عمر باندې ياديده، ترسره شو.

---

[1]- د تقرير معنی داده چې چا درسول الله ﷺ په حضور کې کوم کار سرته رسولی وي اويا يې کومه خبره کړې وي او رسول الله ﷺ دهغه په مقابل کې سکوت اختيار کړی وي او رد کړې يې نه وي.

حضرت عمر بن عبدالعزیز په (٦٦) هجري قمري کال کې ابوبکر محمد بن حزم ته چې د حدیثو په علم کې ستر او نامتو عالم و د نبوي احادیثو د راغونډولو او تدوین دنده ور وسپارله.

ابوبکردمحمد بن مسلم بن شهاب الزهري په مشورې سره د رسول الله ﷺ د احادیثو په راغونډولو او تدوین پیل وکړ او دا ستر ویاړ یې ترلاسه کړ.

له ده وروسته نورو علماوو هم د حدیثو دکتابونو د تدوین لپاره ملاوې وتړلې او د حدیثو په علم کې یې زیات کتابونه تدوین او تصنیف کړل.

**د حدیثو مشهور کتابونه عبارت دي له:**

| شماره | د کتاب نوم | د مؤلف نوم |
|---|---|---|
| ۱ | صحیح البخاري | ابو عبدالله محمد بن اسماعیل البخاري (رح) |
| ۲ | صحیح مسلم | مسلم بن حجاج نیشاپوري (رح) |
| ۳ | سنن ابو داود | سلیمان بن اشعث سجستاني (رح) |
| ۴ | جامع ترمذي | محمد بن عیسی ترمذي (رح) |
| ۵ | سنن نسایي | عبدالرحمن احمد بن شعیب نسایي (رح) |
| ٦ | سنن ابن ماجه | عبدالله محمد بن یزید قزویني (رح) |

## پوښتنې

۱- د حدیث د علم تعریف ولیکئ.

۲- د حدیث د علم موضوع توضیح کړئ.

۳- د حدیث د علم غرض څه شی دی؟ بیان یې کړئ

٤- د حدیث د علم تدوین د کوم خلیفه په وخت کې پیل شو؟

٥- د حدیثو د مشهورو او نامتو کتابونو، نومونه واخلئ.

# د حديث ډولونه

حديث زيات شمېر اقسام لري چې دلته يې ځينې ډولونه په لاندې توګه بيانېږي، حديث لومړی پردوو برخو وېشل کېږي:

**۱– متواتر** **۲– واحد**

**۱– متواتر حديث:** متواتر حديث هغه ته ويل کېږي چې د راويانو شمېر يې دومره زيات وي چې پر دروغو باندې يې توافق عادتاً محال او غير ممکن وي.

د متواتر حديث شرطونه په لاندې ډول دي:

**الف:** چې د راويانو شمېر يې دومره زيات وي چې پر دروغو باندې يې اتفاق عادتاً محال وي.

**ب:** د راويانو شمېر يې له سره تر پايه پورې يوشان وي او په هيڅ مرحله کې کم شوي نه وي.

**ج:** د دوی د روايت وروستۍ برخه په حس باندې استناد ولري، د مثال په توګه ووايي: مونږ دا خبره واوريده، يا دا چې رسول الله ﷺ مو وليد چې داسې عمل يې سر ته ورساوه.

**د:** د پورتنيو شرايطو په درلودلو سره روايت شوی خبر د اوريدونکو لپاره بايد د علم افاده وکړي.

**واحد خبر:** واحد خبر هغه حديث ته ويل کېږي چې د راويانو شمير يې د تواتر درجې ته نه وي رسيدلی او يا دا چې د متواتر ټول شرطونه په کې موجود نه وي.

واحد خبر پر درې ډوله دی:

۱– **مشهور:** مشهور هغه حدیث ته ویل کېږي چې راویان یې له دوو کسانو څخه زیات وي، خو د تواتر حدته نه وي رسیدلی.

۲– **عزیز:** عزیز خبر هغه حدیث ته ویل کېږي چې راویان یې له دوو کسانو څخه په هیڅ یوه طبقه کې کم نه وي.

۳– **غریب:** غریب هغه حدیث دی چې راوي یې یوازې یو شخص وي.

## پوښتنې

۱- د حدیث د علم تعریف ولیکئ.

۲- د حدیث د علم موضوع شرحه کړئ.

۳- متواتر حدیث تعریف کړئ.

٤- دمتواتر حدیث شرطونه بیان کړئ.

٥- مشهور خبر تعریف کړئ.

٦- د عزیز خبر تعریف بیان کړئ.

# په عمل کې اخلاص

(عَنْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُوْلِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ إِلَىٰ امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ) **متفق علیه**[1]

**د ځینو کلمو معناوې:**

**١-** إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ: **د عملونو ثواب په نیت پورې اړه لري.**

**٢-** لِكُلِّ امْرِئٍ: **هرچاته.**

**ژباړه: له حضرت عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) نه روایت دی چې ویې ویل رسول الله ﷺ وسلم فرمایلي دي: د عملونو ثواب په نیت پورې اړه لري او هر چاته هماغه شی ورکول کېږي چې د هغه نیت یې کړی وي نو د هغه چا هجرت چې د الله پاک(جل جلاله) او د هغه د پیغمبر ﷺ لپاره وي واقعاً چې هماغسې دی او که د چا هجرت د مال او شتمنۍ د لاس ته راوړلو او یا د کومې ښځې د نکاح کولو په غرض سرته رسیدلی وي نو د ده هجرت د هغه شي لپاره دی چې ده د هغه لپاره هجرت کړی وي.**

**د مبارک حدیث توضیح:**

**له پورتني حدیث نه مطلب دا دی چې د انسان د عملونو ثواب د ده له نیت سره ارتباط لري نو که چېرې انسان د پاک الله جل جلا له او د ده د ستر پیغمبر رسول‌الله ﷺ د رضا په خاطر هجرت وکړي نو داسې هجرت یو واقعي هجرت دی چې د الله جل جلاله او پیغمبر ﷺ په نزد د ثواب وړ ګرځي.**

---

[1] _ نوټ: متفق علیه حدیث، هغه حدیث ته وایي: چې بخاري او مسلم دواړو روایت کړی وي.

خو که چېرې څوک د مال او دنیا د لاس ته راوړلو لپاره له خپل اصلي ټاټوبي نه مهاجر شوی وي او یا دا چې له کومې ښځې سره د نکاح په غرض او یا د بل کوم دنیوي هدف لپاره یې هجرت کړی وي نو د ده له نیت سره سم ورسره معامله کېږي یعنې ډېر امکان لري چې نوموړی خپل دغه دنیوي هدف ته ورسېږي خو د اخرت له ثواب څخه چې د واقعي هجرت لپاره شته، بې برخې پاتې کېږي.

د رسول الله ﷺ په زمانه کې په مدینه منوره کې یوه ښځه اوسیده چې ام قیس نومیده او یو صحابي له همدې ښځې سره د واده (نکاح) په غرض له مکې معظمې نه هجرت وکړ،کله چې رسول مقبول ﷺ له دې کېفیت نه خبر شو پورتنی مبارک حدیث یې بیان کړ، له دې نه وروسته به ټولو خلکو نوموړی د ام قیس مهاجر باله.

**دهجرت لغوي او اصطلاحي معنیٰ:**

هجرت په لغت کې ترک او له کوم شي نه د ګوښه کېدو په معنیٰ دی او په اصطلاح کې دې ته وایي چې یومسلمان د الله جل جلا له د رضا حاصلولو او د دین د ساتنې په خاطر خپل وطن چې د کفارو تر ولکې لاندې راغلی وي، پرېږدي.

**د مبارک حدیث ګټې:**

۱- د هر عمل ثواب د کوونکي په نیت پورې اړه لري او له ښه نیت څخه پرته هیڅ عمل کوونکی د اجر او ثواب وړ نه ګرځي.

۲- د پاک الله جل جلا له په لاره کې هجرت کول زیات ثواب لري.

۳- د دنیوي مقصدونو د تر لاسه کولو لپاره هجرت کول ثواب نه لري.

## پوښتنې

۱- د اعمالو اجر او ثواب په څه پورې اړه لري؟

۲- د هجرت لغوي او اصطلاحي معنی بیان کړئ!

۳- آیا د دنیوي مقصدونودترلاسه کولولپاره هجرت کول ثواب لري اوکه نه ؟

# اسلام – ايمان – او احسان

## ۱–اسلام

عن عُمَرِ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعْرِ لَا يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ وَلَا يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ حَتَّى جَلَسَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ وَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَخْبِرْنِي عَنْ الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْإِسْلَامُ أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ وَتَصُومَ رَمَضَانَ وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنْ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلًا قَالَ صَدَقْتَ قَالَ فَعَجِبْنَا لَهُ يَسْأَلُهُ وَيُصَدِّقُهُ...) رواه مسلم.

**د ځينو كلمومعناوې:**

طَلَعَ: ښكاره شو.

وَضَعَ: كېښودل.

فَأَسْنَدَ: تكيه يې كړل.

أَخْبِرْنِي: خبر راكړه.

**ژباړه:** له حضرت عمر بن الخطاب (رض) څخه روايت دی وايي چې مونږ د رسول الله ﷺ په حضور كې ناست وو ناڅاپه داسې يو سړی را پيداشو چې خورا سپينې جامې يې اغوستې وې او ويښته يې زيات تور وو، پر ده د سفر كومه نښه نښانه نه ليدل كېده او په مونږ كې هم هېچا نه پېژانده، نوموړی سړی راغی او رسول الله ﷺ ته نږدې كېناست داسې چې خپل دواړه زنګونه يې د رسول كريم ﷺ له زنګونو

سره ونښلول او دواړه لاسونه یې د هغه پر ورنونو باندې کېښودل او داسې یې وویل: ای محمده ﷺ! ما له اسلام څخه خبر کړه.

رسول الله ﷺ وفرمایل: (اسلام دا دی چې ووایې: شاهدي ورکوم پر دې باندې چې نشته بل برحق معبود مګر الله او محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلا له پیغمبر دی.
لمونځ اداء کړې، زکات ورکړې، د روژې مبارکې میاشتې روژه ونیسې او د حج مناسک د توان او قدرت په صورت کې پر ځای کړې. نوموړي سړي وویل چې رښتیا وایې! عمر بن الخطاب وایي مونږ ددې سړي خبرې ته حیران پاتې شو! چې یو خواته پوښتنه کوي او له بلې خوا یې تصدیق کوي، ځکه چې د چا پوښتنه کول ددې معني ورکوي چې پوښتونکی باید د پوښتل شوې موضوع په اړه معلومات ونه لري او حال دا چې تصدیق کول بیا د ده پر علم باندې دلالت کوي.

## د مبارک حدیث توضیح:

اسلام په لغت کې ځان سپارلو او غاړه ایښودلو ته وایي اوپه شریعت کې د پاک الله جَلَّجَلَالُهُ د اوامرو اطاعت او د اسلام د پنځه ګونو ارکانو پر ځای کول دي. لکه څرنګه چې په تیر مبارک حدیث کې راغلي دي، یو انسان هلته مسلمان ګڼل کېږي چې په ژبه کلمه طیبه (لااله الاالله محمد رسول الله) ووایي اوپه زړه کې وربانديې پوره باور او یقین ولري چې دې ډول ایمان ته اجمالي ایمان ویل کېږي.

له دې مبارک حدیث څخه په څرګندډول معلومیږي چې د اسلام د مقدس دین مهم ارکان پنځه دي چې لومړی رکن یې پر الله جل جلاله او د ده پر رسول باندې ایمان او عقیده درلودل دي او څلور نورېې له: لمانځه، روژې، زکات او حج څخه عبارت دي چې دا وروستني څلور یې عملي اړخ لري.

کامل مسلمان هغه څوک دی چې له عقیدې سره جوخت باید ټول ارکان عملاً سرته ورسوي نو ځکه هغه څوک چې ځینې اسلامي ارکان له شرعي عذر نه

پرته سرته نه رسوي، مکمل مسلمان نه ګڼل کېږي بلکې ایمان یې ناقص او ګناه ګارېږي.

## د مبارک حدیث ګټې:

له پورتني مبارک حدیث نه لاندې فضائل او فوائد څرګندېږي:

۱- دسپینو جامو فضیلت او نظافت.

۲- دزده کړې د آدابو پیژندنه او د استاذ احترام پر ځای کول.

۳- اسلام پنځه مهم ارکان لري.

## ۲- ایمان:

(قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنْ الْإِيمَانِ قَالَ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ قَالَ صَدَقْتَ.....)

## د ځینو کلمومعناوې:

۱- **تؤمن:** ایمان راوړې.

۲- **قدر:** د الله (ج) له خوانه ازلي اندازه.

۳- **خیر:** ښه والی.

۴- **شر:** بدي.

**ژباړه:** نوموړي سړي بیا وویل ماته د ایمان په اړه معلومات راکړه.

رسول الله ﷺ وفرمایل: د ایمان حقیقت دا دی:

چې ایمان راوړې پر الله جل جلاله، د ده په ملایکو، د ده په پیغمبرانو، دده پر کتابونو، د اخرت پر ورځ او ایمان راوړې په تقدیر او دا چې د تقدیرښه او بد (خیراوشر) ټول د الله جل جلاله له خوا دي.

هغه سړي رسول الله ﷺ ته وویل چې رښتیا دې وویل.

## د مبارک حدیث توضیح:

ایمان په لغت کې تصدیق او باور ته وایي او په شریعت کې د هغو احکامو منل، تصدیق، اقرار او پرې عمل کول دي چې رسول الله ﷺ دپاک الله جل جلالہ له خوا راوړي دي.

له دې مبارک حدیث نه څرګندیږي چې د ایمان مهم ارکان شپږ دي:

۱– په الله تعالی ایمان

۲– پر ملایکوایمان

۳– د الله (ج) په کتابونوایمان

۴– د الله پر پیغمبرانو ایمان

۵– د اخرت پر ورځې ایمان

٦– پر تقدیر باندې او دا چې خیر او شر ټول د پاک الله ﷻ له لوري دي ایمان لرل.

## د مبارک حدیث ګټې:

١- د ایمان د ارکانو پیژندنه.

٢- چاته چې یوازې په یوه مؤمن به هم ایمان ونه لري مؤمن نه شو ویلای.

## ۳–احسان:

(قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنْ الْإِحْسَانِ قَالَ أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنْ السَّاعَةِ قَالَ مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنْ السَّائِلِ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنْ أَمَارَاتِهَا قَالَ أَنْ تَلِدَ الْأَمَةُ رَبَّتَهَا وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ قَالَ ثُمَّ انْطَلَقَ فَلَبِثْتُ مَلِيًّا ثُمَّ قَالَ لِي يَا عُمَرُ أَتَدْرِي مَنْ السَّائِلُ قُلْتُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ) رواه مسلم

## د ځينو كلمو معناوې:

۱- **إِحْسَانِ:** په ښه او بشپړه توګه د کارونو سرته رسول.

۲- **سائِلُ:** پوښتونکی.

۳- **السَّاعَةِ:** د قيامت ورځ.

٤- **مَسْئُولُ:** پوښتل شوی سړی.

٥- **امارات:** نښې نښانې.

ژباړه: نوموړي بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: نو ماته د احسان په باره کې معلومات راکړه

رسول الله ﷺ و فرمايل: احسان هغه دی چې د پاک الله جل جلاله داسې عبادت وکړې لکه ته چې هغه په سترګو ګورې او که چيرې ته ددې قدرت نه لرې چې دی ووينې نو دا يقيني خبره ده چې هغه تا ويني.

هغه سړي وويل: رښتيا وايې. بيا نوموړي سړي رسول الله ﷺ ته وويل: ماته د قيامت د ورځې په باره کې خبر راکړه چې قيامت څه وخت دی.

رسول الله ﷺ و فرمایل: نه دی هغه څوک چې پوښتنه ترې شوې ډېر پوه، د قیامت پر واقع کېدو له هغه چانه چې پوښتنه کوي یعنې زه له تا څخه ډېر په دې باره کې نه پوهیږم. بیا یې و ویل چې د قیامت د نښو نښانو په اړه معلومات راکړه. رسول اکرم ﷺ و فرمایل: دقیامت نښانې دا دي چې وینځه خپله باداره وزیږوي او دا چې پښې لوڅي، بربنډ، ناداره او د پسونو پوونکي(شپانه) وګورې چې د سترو ماڼیو په جوړولو کې یو له بله سره سیالي کوي. عمر فاروق(رض) وایي: وروسته نوموړی پوښتونکی سړی ولاړ.

او وروسته له لږي شېبې رسول الله ﷺ وفرمایل: ای عمره ! آیا پوهیږې چې هغه پوښتونکی سړی څوک و؟ ما وویل: پاک الله جل جلاله اوده پیغمبر صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږي. رسول الله(ص) وفرمایل: جبرائیل (ع) و او راغلی و تر څو تاسې ته د دین په هکله تعلیم درکړي (داحدیث مسلم روایت کړی دی).

## د مبارک حدیث توضیح:

د اسلام د مقدس دین اساس عمدتاً عقاید، فقه او اخلاص تشکیلوي او لکه څرنګه چې ګورو دغه مبارک حدیث درې واړه بیان کړي دي، او دا ځکه چې د اسلام په بیان سره فقهي احکاموته اشاره شوې اودایمان په توضیح سره عقاید بیان شوي چې د دیني علومو بنسټ تشکیلوي او د احسان په بیان سره په عبادت کې اخلاص لرلو ته اشاره ده، یعنې له پاک الله (ج) سره رښتینې اړیکې ټینګول او ځان دې کارته وقف کول دي.

او بیا وروسته له هغه نه چې دیني احکام او پاک الله جل جلاله ته د نږدیوالي او یقین مراتب ټول بیان شول، له دې نه وروسته د قیامت د ورځې او د هغې د علاماتو په باره کې معلومات وغوښتل شول او دا له دې کبله چې مسلمان د دې ورځې د راتګ له امله د عبادت، طاعت او ښو اعمالو سر ته رسولو ته راوبولي.

## پوښتني

۱– داسلام لغوي او شرعي معنى بيان كړئ.

۲– د اسلام د مقدس دين مهم اركان ووایاست.

۳– د ايمان لغوي او شرعي معنى بيان كړئ.

۴– د ايمان مهم اركان كوم دي نوموني يې واخلئ؟

۵– د قيامت علامات چې په پورتني مبارک حديث کې راغلي کوم دي بيان يې کړئ؟

# حیاء

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ شُعْبَةً فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الْأَذَى عَنْ الطَّرِيقِ وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنْ الْإِيمَانِ.** رواه مسلم

**دځینو کلمو معناوې:**

۱- بِضْعٌ: د یو شي یوې برخې ته ویل کېږي، کله چې په اعدادو کې استعمال شي نومطلب یې له دوو څخه زیات او له لسو څخه کم دی.

۲- شُعْبَةً: څانګه یا برخه.

۳- إِمَاطَةُ: لرې کول

۴- أَذَى: اذیت کوونکی شی.

۵- حَيَاءُ: په لغت کې د تغییر او په انساني طبیعت کې د تواضع په معنا ده. او په شریعت کې ښو خصلتونواو غوره اخلاقو ته وایي چې د ایمان په قوت سره انسان له ناوړه کارونوڅخه منع کوي لکه د عورت لوڅول او داسې نور.

**ژباړه:** له حضرت ابوهریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ایمان څه د پاسه او یا څانګې لري تر ټولو غوره یې د(لا اله الا الله) کلمه او ادنا یې د لارې څخه د ضرر لرونکو شیانو لرې کول دي او حیا د ایمان یوه څانګه ده.

## د مبارک حدیث توضیح:

په پورتني مبارک حدیث کې ایمان له یوې ونې سره چې څو او یا ښاخونه لري تشبیه شوی دی.

دلته مطلب له ځانګو څخه هغه غوره صفات او ښه خویونه دي چې په ایمان کې شامل دي. تر ټولو ستر خصلت د لا اله الا الله ویل دي یعنې د اسلام په اصولو عقیده لرل دي او کوچنۍ ځانګه یې له عمومي لارې نه د هر داسې شي لرې کول دي چې د لارویو لپاره د اذیت سبب ګرځي او حیاء هم د ایمان له خصلتونو څخه یو خصلت دی.

لمونځ، روژه، حج او داسې نور غوره عملونه هم د ایمان له خصلتونو څخه ګڼل کېږي.

## د مبارک حدیث ګټې:

۱– ایمان له اویاونه زیاتې برخې لري.

۲– دایمان ستر خصلت د (لا اله الا الله محمد رسول الله) کلمه ده.

۳– دایمان ډیر وړوکی خصلت له لویې لیارې څخه د موذي شیانو، لکه اغزي او داسې نورو لرې کول دي.

۴– حیاء هم د ایمان له خصائلو څخه یو خصلت شمیرل کېږي پر حیا باندې تصریح له دې کبله ده چې دا خصلت که څه هم په ظاهر کې یو خصلت دی خو په حقیقت کې پر ډیرو خصلتونو مشتمل دی، ځکه چې حیا انسان له ناوړو کارونو څخه ژغوري او له ټولو خلکو سره د ښه چارچلند نه کار اخلي او بې حیایي انسان ته د ناوړو کارونو د ارتکاب جرئت ورکوي. له دې کبله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کله دې چې حیا ونه کړه نو هر څه چې غواړې هغه وکړه.[1]

---

[1]- (إذا لم تستحي فاصنع ما شئت) رواه البخاري

## پوښتني

۱ – ايمان څو شعبې لري اوله هغه نه مقصد څه شی دی ؟

۲ – د ايمان ډير غوره خصلت کوم دی؟ نوم يې واخلئ.

۳ – د ايمان ډير وړوکی خصلت کوم يو دی؟

۴ – آيا حيا د ايمان له خصلتونو څخه يو خصلت دی؟ پر دې خصلت باندې تصريح څه حکمت لري؟

# پر کتاب الله او سنتو باندې عمل کول

عَنْ عِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ (رض) قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْفَجْرَ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا فوَعَظَنَا مَوْعِظَةً بَلِيغَةً ذَرَفَتْ لَهَا الْأَعْيُنُ وَوَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوبُ قُلْنَا أَوْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ كَأَنَّ هَذِهِ مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ فَأَوْصِنَا قَالَ أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِي فسيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيرًا فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيينَ وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَإِنَّ كُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ. رواه احمد

**د ځینو کلمومعناوې:**

١– ذَرَفَتْ: له سترګونه اوښکې وبهیدې.

٢– الْأَعْيُنُ: د عين جمع ده يعنې سترګې.

٣– مُوَدِّعٍ: خداى پاماني كوونكى.

۴– وجلت: و وېرېدل.

۵– عضُّوا: په غاښو سره يې ونيسئ، يعنې ټينګ عمل پرې وكړئ.

نواجذ: د ژامې غاښونه.

ژباړه: له عرباض بن ساريه (رض) څخه روايت دى چې وېې ويل: يوه ورځ رسول الله ﷺ مونږ ته د سهار د لمانځه امامت وكړ او وروسته له لمانځه يې مخ راواړاوه او داسې فصيح اواغیزناک وعظ يې وكړ چې له سترګونه مواوښكې وبهيدې، او پر زړونو باندې مو وېره را پرېوته، وروسته يوه سړي وويل: اى رسول الله ﷺ! داسې ښكاري چې دا د يوه وداع كوونكي شخص وعظ اونصيحت وي (يعنې زه داسې فكر كوم چې ته له مونږ سره وداع او له دې جهان نه رحلت كوې )

نو مورږ ته نصیحت وکړه، ویې ویل:تاسې ته وصیت کوم چې له الله جل جلاله څخه وویرېږئ او د خپل امیر اطاعت وکړئ که څه هم حبشي مریی وي، هغه څوک چې له مانه وروسته ژوندکوي په یقیني توګه چې له زیاتو اختلافاتو سره به مخ شي، نوځکه پر تاسې باندې لازمه ده چې تل تر تله زما د سنتو او د خلفای راشدینو د سنتو (چې الله جل جلاله دوی ته هدایت کړی دی) پیروي او اطاعت وکړئ.

(خلفای راشدین څلور یاران (ابوبکر، عمر، عثمان او علي (رضی الله عنهم) دي چې یو په بل پسې یې له نبي کریم ﷺ نه وروسته د خلافت واګې په لاس کې درلودې چې د دوی سنت په حقیقت کې هماغه د نبي کریم ﷺ سنت ګڼل کېږي، په تیره بیا هغه احکام چې د رسول الله ﷺ د نبوت په دوره کې شهرت ته نه وو رسیدلي او له هغه نه وروسته د همدې خلفای راشدینو د اعمالو په ترڅ کې توضیح او شهرت ته ورسیدل نو رسول الله ﷺ وفرمایل چې زما سنت او د خلفای راشدینو د سنت اطاعت او پیروي وکړئ) اوهغه کلک ونیسئ او ځانونه له هغو شیانو څخه وژغورئ چې په دین کې نوي پیدا کېږي یعنې له بدعت نه، ځکه هر بدعت د ګمراهۍ سبب ګرځي.

داحدیث احمد بن حنبل، ابو داود، او ترمذي روایت کړی، خو ترمذي او ابن ماجه د لمانځه او امامت ذکر نه دی کړی.

## د مبارک حدیث ګټې:

۱- وعظ اونصیحت باید په داسې فصاحت او بلاغت سره وکړل شي چې پر اوریدونکو باندې اغیزه وکړي.

۲- که چېرې یو له اوریدونکو څخه کومه پوښتنه ولري کولای شي د وعظ په پای کې هغه مطرح کړي او واعظ باید هغه ته ځواب ورکړي.

۳- هر مسلمان لره په کار ده چې د حق خبره واوري، هغه عملي کاندي او هم د خپل امیر امر (ترهغه ځایه چې له شریعت نه مخالف کار نه وي) ومني او د هغه له حکم څخه سرغړونه ونه کړي.

۴- هر مسلمان لره په کار ده چې تقوا او پرهیزګارۍ خپله دنده وګرځوي او نورخلک هم تقوا او پرهیز ګارۍ ته وهڅوي.

۵- مسلمان باید د کوم اختلاف او فتني د رابرسیره کېدو په وخت کې د رسول الله ﷺ سنت او د راشدینوخلفاوو روش او تګ لارې ته مراجعه وکړي او خپلې ستونزې د همدې دوارو په رڼا کې حل او فصل کړي.

۶- له هغو ناوړه او بدو شیانو څخه ځان وژغوري چې د رسول الله ﷺ او د راشدینو خلفاوو له زمانې څخه وروسته په دین کې را پیدا شوي او په هغو کې دیني مصلحت او ښیګڼې نغښتي نه وي.

# پوښتنې

۱- پیغمبر ﷺ اصحابو کرامو ته د کومو شیانو په اړه وصیت وکړ ؟

۲- راشدین خلفا څوک دي نومونه یې واخلئ؟

۳- دلاندې کلماتو معنی بیان کړئ؟

ذرفت_____ وجلت _____ مودع

۴- د رسول اکرم ﷺ د سنتو له پیروۍ نه وروسته د چا د سنتو پیروي لازمه ده ؟

# دعلم فضيلت

**عن عائشة (رض): أنها قالت: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَمَ يَقُوْلُ: « إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ: أَوْحَىٰ إِلَيَّ أَنَّهُ مَنْ سَلَكَ مَسْلَكًا فِيْ طَلَبِ الْعِلْمِ: سَهَلْتُ لَهُ طَرِيْقَ الجْــنَةِ، وَمَنْ سَلَبْتُ كَرِيْمَتَيْهِ: أَثْبَتُهُ عَلَيْهِمَا الْجَنَّةَ، وَقَصْدٌ فِيْ عِلْمٍ خَيْرٌ مِنْ فَضْلٍ فِيْ عِبَادَةٍ، وَمِلَاكُ الدِّيْنِ اَلْوَرَعُ.**

**رواه البيهقي في شعب الايمان**

## د ځينو كلمو معناوې:

١- اَوْحَىٰ: وحې يې وكړه.

٢- سَلَکَ مَسْلَكاً: لاړشي په غوره شوې لياره.

٣- اَثَبْتُهُ: ثواب وركوم هغه ته.

٤- مِلاَکُ: اساس او بنسټ.

٥- اَلْوَرَعُ: پرهيزګاري او تقوى.

**ژباړه:** له بي بي عايشې (رض) څخه روايت دى چې ويلي يې دي:

له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې واورېدل چې فرمايل يې: پاک الله جل جلاله ماته داسې وحې کړيده: هر هغه څوک چې د علم د لاس ته راوړلو لپاره كومه لياره غوره كړي، زه ورته جنت ته د رسيدلو لياره اسانه كوم او له هر چانه مې چې دوې سترګې واخيستې، په عوض (ثواب) كې يې د قيامت په ورځ جنت وركوم.

په علم كې زياتوالى د عبادت د زياتوالي په پرتله غوره دى. د دين بنسټ او اساس تقوى او پرهيزګاري ده.

## د مبارک حدیث توضیح:

هغه څوک چې د پاک الله جل جلاله د رضا په خاطر د دیني علم د حاصلولو لپاره ملاتړي او په همدې مقصد هرې خواته سفر کوي، لېرې او نژدې ځایونوته ځي، د سفر او لیارو د تکلیفونو او کړاوونو په تحمل کې له ځانه صبر او حوصله ښیي. الله تعالی ددې ټولو په بدل کې هغه ته د جنت د رسیدو لیاره اسانه کوي اوله هغه چا څخه چې الله جل جلا له د سترګو او بینایی نعمت اخیستي وي او هغه ددې رنځ په مقابل کې له صبر او تحمل څخه کار واخلي الله جل جلاله د اخرت په ورځ ده ته جنت ورپه برخه کوي.

داسلام د مقدس دین د نظام ټینګښت او قوت په تقوی او پرهیزګارۍ کې نغښتی دی.

## د مبارک حدیث ګټې:

۱. د علم طلب چې د پاک الله ﷻ د رضا په خاطر وي جنت ته د داخلیدو سبب ګرځي.
۲. هغه څوک چې په دنیا کې د سترګو له نعمت نه محروم شوی او ړوند وي ددې حرمان په مقابل کې یې صبر، او د الله ﷻ نافرماني نه وي کړې نو الله ﷻ د ده د دې صبر او تحمل په مقابل کې جنت ورپه برخه کوي.
۳. په علم کې زیاتوالی له عبادت نه غوره دی.
۴. تقوا او پرهېزګاري د دین اساس او بنسټ تشکیلوي، دا ځکه چې متقي او پرهیزګار سړی په حقیقت کې د ټولو ګناهونو له ارتکاب څخه ځان لېرې ساتلای شي چې په نتیجه کې د شخصي او ټولنیزې ښېګڼې او اصلاح سبب ګرځي.

# پوښتنې

۱- الله تبارک وتعالي خپل پیغمبر حضرت محمد ﷺ ته د علم په اړه څرنګه وحې کړې ده؟

۲- څوک چې د بینایۍ له نعمت نه محروم شوی وي څه ډول اجر ورکول کېږي او څرنګه ؟

۳- څه شی د دین بنسټ او اساس تشکیلوي؟

# نظافت او پاکوالی

**عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ الصَّلَاةُ وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُورُ.** **رواه احمد**

**دځینو کلمو معناوې:**

۱- مِفْتَاحٌ: کلي.

۲- اَلصَّلوٰةُ: لمونځ.

۳- اَلطُّهُوْرُ: پاکي.

**ژباړه:** له حضرت جابر (رض) څخه روایت دی چې رسول ﷲ صلی الله علیه وسلم فرمايلي: د جنت کلي لمونځ او د لمانځه کلي نظافت او پاکي ده.

## د مبارک حدیث توضیح:

رسول الله ﷺ لمونځ د جنت د دروازې کلي بللی ترڅو مسلمانان ددې مهم رکن په سرته رسولوکې لتي او غفلت ونه کړي، او هم له دې سببه چې د بدن، جامو او د لمانځه د ځای پاکوالی او طهارت د لمانځه د صحت لپاره شرط دی، نو ځکه په عمومي توګه له پاکوالي نه د لمانځه د کلي په نامه تعبير شوی دی.

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د نظافت په هکله زيات تاييد فرمايلی دی لکه څرنګه چې په بل حديث شريف کې راغلي دي او فرمايي:

**عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ.** **رواه مسلم**

يعنې نظافت د ايمان يوه برخه او د هغه د غوره صفاتو څخه يو صفت دی.

دشطر کلمه د نصف(نیمايي) معنی ورکوي لکه څرنګه چې له دغه مطلب نه په بل حدیث کې په صراحت سره یادونه شوې ده.

وَالطُّهُورُ نِصْفُ الْإِيمَانِ. رواه الترمذي. یعنې پاکي او نظافت د ایمان نیمايي برخه ده علماء وايي رسول اکرم ﷺ طهارت له دې کبله د ایمان نیمايي اویا د هغه یوه برخه ګڼلې ده چې هر انسان د باطن او ظاهر لرونکی دی، ایمان د انسان باطن له کفر او شرک او نظافت د هغه ظاهر له ناپاکۍ څخه پاکوي.

دطبي علومو پوهان وايي: ډیرې زیاتې ناروغۍ د مضره مکروبونو له امله منځ ته راځي او مضره مکروبونه له ناپاکۍ او کثافاتو څخه پیدا کېږي.

## پوښتنې

۱ – دجنت کلي څه شی ده؟

۲ – د لمانځه کلي څه شی ده؟

۳ – رسول الله ﷺ ولې نظافت د ایمان نیمايي برخه ګڼلې ده؟

---

ښاغلی ښوونکی دې د نظافت او پاکوالي په اړه زده کوونکو ته نور لازم معلومات ورکړي.

# لمونځ

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهْرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ قَالُوا لَا يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ قَالَ فَذَلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللَّهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا. رواه مسلم**

**. د ځینو کلمو معناوې:**

**۱- أَرَأَيْتُمْ: آیا وینئ.**

**۲- دَرَنْ: خیری.**

**۳- يَمْحُو: محوه او پاکوي یعنې لرې کوي.**

**ژباړه: له ابوهریرة (رض) څخه روایت دی چې ویلي یې دي رسول اکرم ﷺ فرمایلي:**

**په دې کې څه وایاست که چیرې له تاسې نه د یوه د کور د دروازې په مخ کې یوه ویاله بهیږي چې دی په کې هره ورځ پنځه ځلې ولمبیږي نو آیا په دې صورت کې به د ده پر بدن باندې خیری پاتې شي ؟ اصحابو وویل نه، د بدن له خیرو به یې څه پاتې نه شي. رسول الله ﷺ و فرمایل: دغه د پنځه وخته لمنځونو مثال دی چې پاک الله جل جلاله د هغو په واسطه ګناهونه له منځه وړي.**

## د مبارک حدیث توضیح:

**رسول الله ﷺ په پورتني حدیث کې دا مطلب په وضاحت سره بیان کړی دی چې که چیرې انسان پنځه وخته لمونځ په اخلاص سره ادا کړي ګناهونه یې د پاک الله جل جلاله له خوا نه عفوه او ببنښل کیږي.**

علماء وايي: د پنځه وخته لمانځه د ادا کولو په واسطې سره صغیره ګناه ښنل کېږي لکه چې په یو بل مبارک حدیث کې راغلي دي:(اِذَا اِجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ. ...) (رواه مسلم) (په دې شرط چې له کبیره ګناهونوڅخه ځان وساتي).

له پورتني حدیث څخه معلومیږي هغه ګناهونه چې د لمانځه په واسطه محوه او عفو کېږي هغه صغیره ګناهونه دي،ځکه چې کبیره ګناهونه د توبې په واسطه ښنل کېږي.

## د مبارک حدیث ګټې:

١– لکه څنګه چې او به ظاهري خیري پاکوي دغه راز پنځه وخته لمونځ باطني خیري (چې د ګناهونو د ارتکاب له امله پیدا کېږي) محوه کوي.

٢– هر مسلمان ته لازمه ده چې د پنځه وخته لمونځو نو د ادا کولو پوره رعایت وکړي.

٣– دپنځه وخته لمانځه په ادا کولو سره صغیره ګناهونه محوه کېږي.

ددې مبارک حدیث له ظاهره او د النساء سورة له ٣١ آیت نه داسې برېښي که چېرته څوک له کبائرو څخه ځان وژغوري نو صغیره ګناه یې په اطاعت او عبادت سره محوه او ښنل کېږي خو که چېرې له کبائرو څخه پرهیز ونه شي، صغایر هم د ده پرغاړه باقي پاتې کېږي.

## پوښتنې

١– رسول الله ﷺ پنځه وخته لمونځونه له څه شي سره تشبیه کړي دي؟

٢– د پنځه وخته لمونځونو په اداکولو سره کوم ډول ګناهونه ښنل کېږي؟

٣– د پنځه وخته لمونځونو په ادا کولو سره څه وخت ګناوې ښنل کېږي؟

# د روژې فــضــيلت

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. رواه البخاري**

## د ځينو کلمو معناوې:

۱ – اِيمَانًا: پر پاک الله جل جلاله او د ده پر رسول ﷺ باندې د ايمان له کبله.

۲ – اِحْتِسَابًا: د ثواب د غوښتنې او لاس ته راوړلو په خاطر.

۳ – غُفِرَ: ښښل کيږي.

۴ – ذَنبِهِ: د هغه ګناه.

ژباړه: له حضرت ابوهريره (رض) څخه روايت دی چې رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي: هغه څوک چې د روژې د مبارکې مياشتې روژه په ايمان دارۍ او اخلاص سره ونيسي تير ګناهونه يې ښښل کيږي او هغه څوک چې د قدر په شپه په اخلاص او ايمان دارۍ قيام ا لليل وکړي تير ګناهونه به يې وښښل شي.

## د مبارک حديث توضيح:

څوک چې د روژې د مبارکې مياشتې روژه يوازې پر پاک الله (ج) او د ده پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) باندې د ايمان درلودلو له امله او د پاک الله (ج) له دربار څخه د ثواب د حاصلولو په مقصد ونيسي، الله تبارک و تعالی د ده تير ګناهونه د همدې روژې په برکت عفوه کوي او هغه څوک چې په دغه مقصد په دې مبارکه مياشت کې د تراويح لمونځ، د قران عظيم الشان ختم او داسې نور طاعات او عبادات سرته رسوي او هم هغه څوک چې د قدر په مبارکه شپه کې قيام کوي يعنې د پاک الله جل جلاله په عبادت او ذکرکولو مشغول وي نو پخواني ګناهونه يې د

همدې مبارکې شپې د فضیلت او برکت له امله د پاک الله جل جلاله په فضل عفوه او بښل کېږي. د قدر په شپه کې عبادت کول زیات ثواب او اجر لري ځکه دغه شپه لکه څرنګه چې په قرآن عظیم الشان کې راغلي دي له زرو میاشتونه زیات قدر او منزلت لري. (لیلة القدر خیر من الف شهر) (د قدر سورت، آیت ۳)
ژباړه: د قدر شپه له زرومیاشتو نه غوره ده.

## د مبارک حدیث ګټې:

۱- پاک الله جل جلاله د هغه چا ګناهونه عفوه کوي چې په ایمانداری او د ده د رضا لپاره یې روژه نیولې وي.

۲- دروژې په مبارکه میاشت کې د قیام، طاعت او عبادت په کولو سره د مؤمن انسان ګناهونه بښل کېږي.

۳- د قدر د شپې قیام او عبادت کې وېښه تېرول د ګناهونو د بښلو لامل ګرځي.

# پوښتنې

۱- د هغه چا لپاره چې د ایمانداری او ثواب د حاصلولو په مقصد روژه ونیسي څه ډول اجر ورکول کېږي؟

۲- د روژې د مبارکې میاشتې قیام څه شي ته وایي؟

۳- د قدر د مبارکې شپې د فضائلو په باره کې معلومات ورکړئ

# زکات

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ آتَاهُ اللَّهُ مَالًا فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ لَهُ زَبِيبَتَانِ يُطَوِّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ يعني بِشِدْقَيْهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا مَالُكَ أَنَا كَنْزُكَ، ثُمَّ تَلَا{ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ } الْآيَةَ رواه البخاري

**د ځينو کلمو معناوې:**

۱– لَمْ يُؤَدِّ: ادا نه کړي.

۲– شُجَاع: مار.

۳– اَقرَعَ: داسې پک چې په سر يې وېښته نه وي.

۴– زَبِيبَتَانِ: د سترګو له پاسه دوه تور ټکي (يادوه تورې زخې).

۵– مُثِّلَ: صورت ورکول کېږي.

۶– يُطَوِّقُهُ: د هغه سړي په غاړه کې طوق ګرځي.

۷– لِهْزِمَتَيهِ: د دواړو ژامو هډوکي.

۸– شِدقَيهِ: د خولې دواړې خواوې (وښکې).

**ژباړه:** له حضرت ابوهريرة (رض) نه روايت دی چې ويلي يې دي:

رسول اکرم ﷺ فرمايلي: هغه چا ته چې الله تبارک وتعالی مال ورکړی وي او زکات يې ادا نه کړي، دغه مال د قيامت په ورځ د يوه داسې مار په شکل نوموړي ته راځي چې سر يې پک او وېښته نه لري او د دواړو سترګو له پاسه دوه تور ټکي لري نوموړی مار د قيامت په ورځ د ده په غاړه کې د طوق په شکل پرېوځي او د سړي دواړه ژامې نيسي او وايي چې زه ستامال يم. زه ستا خزانه يم. وروسته بيا رسول اکرم (ص) دا مبارک آيت ولوست: بايد ګومان ونه کړي هغه کسان چې بخل کوي...).

## د مبارک حدیث توضیح:

پاک الله جل جلاله د بډایانو او شتمنو خلکو په مال کې د نادارو او بېوزلو لپاره برخه او حق مقرر کړی دی. د کائناتو سرور رسول الله ﷺ په پورتني مبارک حدیث کې د هغو کسانو برخلیک بیان کړی دی چې پاک الله جل جلاله په خپل فضل او کرم سره دوی ته مال او شتمني ورکړې ده خو دوی د نادارو او فقیرانو حق هیر کړی او هغه یې مستحقو کسانو ته نه دی ورکړی.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: هغه چاته چې الله تبارک وتعالی مال ورکړی وي خو زکات یې مستحقینوته ور نه کړي، د قیامت په ورځ له هماغه مال څخه یوداسې خطرناک مارجوړیږي چې سر یې پک او وېښته نه لري (هغه مار چې په خپل سر باندې ویښته ولري اوبیا ورژیږي او پک شي زهر یې تیز او خطر نا ک وي) دغه مار د ده په غاړه کې د طوق په شان تاویږي او له دواړو ژامویې کلک نیسي او ورته وایي زه ستا مال یم. زه ستا خزانه یم.

بیا وروسته رسول الله ﷺ د خپلې پورتنۍ خبرې د تائید په خاطر دا مبارک آیت لولي چې فرمایي:

(وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْراً لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَـــرٌّ لَّهُـــمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ) آل عمران ۱۸۱

ژباړه: باید ګومان ونه کړي هغه کسان چې بخل کوي د هغو مالونو په اړه چې ورکړي دي دوی ته پاک الله (ج) دا چې دغه بخل د دوی لپاره غوره او ښه کار دی بلکې دغه کار ناوړه او بد دی ځکه ډیر ژر به د قیامت په ورځ هغه مال چې دوی پرې بخیلي کوله (نادارو ته یې نه ورکاوه) د دوی په غاړه کې د یو خطرناک مار په څیر د طوق په شان تر غاړې تاو شي.

## پوښتنې

۱- هغه کسان چې د خپل مال زکات نه ورکوي د قیامت په ورځ له هغوی سره څه ډول معامله کېږي؟

۲- لاندې لغات معنی کړئ

اقرع- زبیبتان- یطوقه

۳- پیغمبر ﷺ له خپل مبارک حدیث نه وروسته کوم آیت شریف تلاوت کړ؟

# حج

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَجَّ هَذَا الْبَيْتَ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ. رواه البخاري**

## د ځينو کلمو معناوې:

۱- **حج**: د پاک خدای د کور زيارت کول دي، د ټولو هغو مناسکو په سرته رسولو سره چې امر يې شوی دی.

۲- **فَلَمْ يَرْفُثْ**: فحش ويل ونه کړي.

۳- **وَلَمْ يَفْسُقْ**: او ناوړه کارونه ونه کړي.

۴- **رَجَعَ**: بيرته را ګرځي.

ژباړه: له ابوهريره (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې خاص د الله جل جلاله د رضا په خاطر حج وکړي او په هغه کې له فحش ويلو څخه ځان وژغوري اوهم نور ناوړه کارونه ونه کړي، له ګناهونو څخه به داسې پاک او سپيڅلی شي لکه له مورڅخه چې په کومه ورځ زيږيدلی دی.

## د مبارک حديث توضيح:

هر څوک چې د پاک الله جل جلاله د رضا په خاطر حج وکړي، نه د ريا او يا نورو دنيوي اغراضو او اهدافو په خاطر، اوهم دحج دادا کولو په موقع له جنګ او جدال، فسق، فجو ر او له خپلو ملګرو سره له ناوړې ګوزارې څخه ځان وژغوري، تېرګناهونه يې رژيږي اوله حج نه داسې سپيڅلی او سوچه را ګرځي لکه چې له مور څخه نوی زيږيدلی وي.

## د مبارک حديث ګټې:

۱- په پاک نيت سره حج کول زيات ثواب لري.

۲- د حج په وخت کې بايد داسې کارونه سرته ونه رسيږي چې له اسلامي احکامو سره مخالف وي او د حج له آدابو سره منافات ولري.

۳- حج مبرور یعنې داسې حج چې د پاک الله (ج) د رضاپه خاطر وي، نه د ریا په مقصد او هم هغه چې غیر شرعي عمل ورسره نه وي یوځای شوی او د پاک الله په دربارکې قبول شي نو تیر شوي ګناهونه محوه کوي.

دغه راز پورتني مطالب په بل مبارک حدیث کې داسې راغلي دي:

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (قَالَ الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ).** رواه البخاري

**ژباړه:** دغه راز له ابوهریره (رض) نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

یوه عمره تر بلې عمرې پورې د هغو ګناهونو لپاره کفاره ده چې د دوی په منځ کې سرته رسیږې او د مبرور حج جزا جنت دي.

## د مبارک حدیث توضیح:

عمره په لغت کې زیارت کولو او قصد ته وایي او په شریعت کې له هغو مخصوصو افعالو څخه عبارت ده چې هغه له کعبې شریفې څخه طواف او د صفاء او مروه ترمنځ سعي کول دي.

مبرور حج هغه ته وایي چې له ټولو منهیاتو څخه په کې پرهیز وشي او د پاک الله جل جلاله په دربارکې قبول شوی وي.

## پوښتنې

۱- دپاک الله د رضا لپاره حج کول څه ډول اجر لري ؟

۲- دعمرې معنی بیان کړئ.

۳- مبرور حج شرحه کړئ.

# جـــــهاد

**عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:(جَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ).** رواه النسائي

## د ځينو کلمو معنى:

**۱- جَاهِدُوا:** دالله تعالى په لاره کې جهاد وکړئ.

**۲- بِأَمْوَالِكُمْ:** په خپلو مالونو سره .

**۳- وَأَيْدِيكُمْ:** او پخپلو لاسونو سره.

**۴- وَأَلْسِنَتِكُمْ:**او پخپلو ژبو سره.

**ژباړه:** له انس (رضی الله عنه) نه روايت دی چې پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي : پخپلو مالونو، لاسونو او ژبو سره جهاد وکړئ.

داحديث نسائي روايت کړی دی

## د مبارک حديث تو ضيح:

جهاد په لغت کې کوشش کولو ته او په شريعت کې د پاک الله د دين د اعلا اولوړوالي په مقصد هڅه کولو ته وايي چې جنګ کول هم په کې شامل دی .

کله چې داسلام دمقدس دين دښمنان پر مسلمانانو باندې تيری وکړي جهاد پر مسلمانانو باندې فرض کيږي.

رسول الله ﷺ په پورتني حديث کې له يوې خوا پر جهاد باندې امر فرمايلی، او له بلې خوايې د جهاد وسايل او اسباب هم بيان کړي دي .

**لومړي مطلب په مال باندې جهاد:** د نبوي ارشاد له مخې مال د جهاد لومړی او مهمه وسيله ده، ځکه پرته دمال له مصرفولو څخه مسلمانان نه شي کولای د جهاد لپاره مناسب تياری ونيسي، نو ځکه رسول الله ﷺ مسلمانانوته امر کوي چې دجهاد په لارکې خپله شتمني او مال مصرف کړي، ترڅو مجاهدين وکولاي شي جهاد پيل او هغه ته ادامه ورکړي.

**دوهم مطلب په نفس باندې جهاد:** بل هغه شی چې دجهاد سرته رسولو لپاره حتمي او ضروري ګڼل شوی دی، هغه په مسلحانه جهاد کې دمسلمانانو اشتراک کول دي ، له همدې کبله په دې حديث کې دې ته اشاره شوې ده چې مسلمانان ( په

تېره پيا هغه کسان چې دتوان او قدرت لري ) بايد پخپلو متهو او لاسونو دمتجاوزينو او محاربينو په مقابل کې وجنګيږي او جهاد وکړي، (دا موضوع د فقهې په کتابونو کې په تفصيل سره راغلې بايد هلته مراجعه وشي).

**دريم مطلب په ژبه باندې جهاد کول:** په پورتني مبارک حديث کې ژبه دجهاد بله مهمه وسيله ګڼل شوې ده، چې په دې ترتيب حتى هغه کسان هم کولای شي چې جهاد کې برخه واخلي چې نه مالي توان لري او نه ځاني توان، او د ژبې او قلم په واسطه د اسلام د دښمنانو پر ضد جهاد وکړي، او د دې وجيبې لپاره وعظ، تبليغ او نصيحت وکړي.

مقصد دادی چې هر څوک چې هر څه کولای شي چې د مجاهدينو او دجهاد موقف ته ګټه رسوي بايد هغه ونه سپموي.

**څلورم مطلب جهاد پرمتجاوزينو او محاربوکافرانو باندې:** جهاد د هغو کسانو په مقابل کې پر مسلمانانوباندې لازم دی چې هغوی پر مسلمانانو باندې د جنګ اعلان کړی وي، او د مسلمانانو سره دښمني کوي ، نه پر هغوکسانو چې هغوی اهل ذمه دي او يا دمسلمانانو سره د صلحې تعهد لري .

**خدای (ج) فرمايي :** ( لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ (٨) إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (٩)) د الممتحنه سورت.

**ژباړه :** خداي (ج) تاسې د هغو کسانو سره له نيکۍ اوعدالت کولو څخه نه منع کوي کوم چې له تاسې سره يې د دين په خاطر جنګ نه دی کړی اوتاسې يې دتاسو له کورونو څخه نه يې بهر کړي، خدای عدالت کوونکي خوښوي ، بلکه خدای (ج) تاسی د هغو کسانو له دوستۍ څخه منع کوي کوم چې له تاسو سره يې د دين په خاطرجنګ کړی دی او تاسی يې ستاسو له کورونو څخه شړي ياست او ستاسي په شړلو کې يې برخه اخيستلې ده ، که چېرې څوک د دوی سره دوستی وکړي نو هغوی ظالمان دي.

## پوښتنې

١ – دجهاد لغوي او اصطلاحي معنی بيان کړئ.
٢ – دجهاد وسائل په څو ډوله او کوم دي؟ شرحه يې کړئ.
٣ – جهاد په ژبه او قلم سره څنګه سرته رسيږي؟

# د مسلمانانو حقوق

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ رَدُّ السَّلَامِ وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ. رواه البخاري**

## د ځینوکلمو معناوې:

۱ – **عِيَادَت**: د ناروغ د حال پوښتنه کول په ورتګ سره.

۲ – **جَنَائِز**: جمع د جنازې او جنازه مړي ته وايي.

۳ – **اتِّبَاعُ**: په کوم شي پسي تګ کول.

۴ – **إجَابَةُ**: قبلول، منل.

۵ – **دَّعْوَة**: مېلمستيا.

ژباړه: له ابوهريره (رض) څخه روايت دی چې محمد صلی الله عليه وسلم وفرمايل: يو مسلمان پربل مسلمان پنځه حقونه لري.

۱ – دسلام ځواب ورکول.

۲ – د ناروغ عيادت او پوښتنه کول.

۳ – دجنازې مشايعت کول.

۴ – مېلمستيا منل.

۵ – څوک چې عطسه (پرنجی) وکړي ورته(يرحمک الله ) ويل.

۶ – تشميت د پرنجي ځواب: څوک چې عطسه (پرنجی ) وکړي ورته د (يرحمک الله) په عبارت سره دعا کول

۷ – عطاس: عطسه کوونکی

## د مبارک حديث توضيح:

هر مسلمان پر بل مسلمان ورور باندې پنځه حقونه لري:

۱. دا چې کله يې سلام واچوه نو پر مقابل لوري باندې لا زمه ده چې ځواب يې ورکړي او ووايي: وعليکم السلام او حتي غوره ده چې له دې نه زيات

کلمات استعمال کړي لکه: وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته، چې دا ډول ځواب ورکول غوره او بهتر دي.

۲. د ناروغ د حال پوښتنه کول،یعنې که چېرې یو مسلمان ناروغ شي پر نورو مسلمانانو باندې دا حق لري چې کور او روغتون ته ورشي او د صحت پوښتنه یې وکړي، ځکه دا کار ناروغ روحاً تقویه کوي او د ناروغ د ژر روغتیا په هکله زیاته مرسته کوي.

۳. کله چې یو مسلمان شخص وفات شي نو ډېره ضروري او واجب کفائي ده چې نور مسلمانان یې د جنازې مشایعت وکړي ځکه په دې کار کې برسیره پر دې چې مشایعت کوونکي ته ثواب رسیږي، د مړي د پاتې کسانو لپاره د زیات تسلیت سبب ګرځي.

۴. له هغه ځایه چې د اسلام مقدس دین د اجتماعي اړیکو د ټینګښت زیات خیال ساتي نو کله چې یو مسلمان ورور بل مسلمان ورور دعوت او میلمه کړي پر بلل شوي یې منل لازم دي په دې شرط چې د میلمستیا په محفل کې شرعي موانع او محرمات موجود نه وي او یا دا چې بلل شوی شخص کوم عذر ونه لري. که چېرې د میلمستیا په محفل کې شرعي موانع او محرمات وجود ولري، د دې راز بلنې قبول جواز نه لري.

۵. که څوک پرنجی وکړي پر اوریدونکي باندې لازمه ده چې په ځواب کې (یرحمک الله) ووایي.

## پوښتنې

۱– د یو مسلمان حقوق پر بل مسلمان باندې توضیح کړئ.

۲– د لاندې کلماتو معنی بیان کړئ:

اتباع– جنائز – تشمیت – عاطس

۳– د میلمستیا بلنه څه حکم لري ؟

---

نوټ: باید وویل شي چې د مسلمانانو ټول حقوق یوازې همدغه پنځه شیان نه دي بلکې نورزیات حقوق شته چې له مناسبت سره سم په بیلو بیلو احادیثو کې راغلي دي، لکه بېوزلو ته صدقه او خیرات، ډوډۍ او جامې ورکول او داسې نور.

# د مور او پلار حقوق

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَغِمَ أَنْفُهُ ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُهُ ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُهُ قِيلَ مَنْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ مَنْ أَدْرَكَ وَالِدَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَيْهِمَا ثُمَّ لَمْ يَدْخُلْ الْجَنَّةَ.** رواه مسلم

## دځينو کلمو معناوې:

۱– رَغِمَ: په خاوره ککړ او سپيره دې شي.

۲– أَنْفُهُ: د هغه پوزه، مطلب ترې مخ دی. پښتانه وايي پوزه دې خاورې شه يعنې مړشې.

۳– أَدْرَكَ: بيامونډ.

۴– عِنْدَ الْكِبَرِ: د زوړتيا او زهيرۍ په وخت کې.

**ژباړه**: له ابوهريره (رض) څخه روايت دی چې رسول ﷲ (صلیﷲ عليه وسلم) وفرمايل:

سپيره دې شي د هغه مخ، سپيره دې شي د هغه مخ، سپيره دې شي د هغه مخ. يوه صحابي وپوښتل: د چا مخ يا رسول الله؟ ﷺ رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه څوک چې مور او پلار دواړه او يايوې دزوړالي او زهيرۍ په وخت کې وموندخو جنت ته پرې داخل نه شو.

## د مبارک حديث توضيح:

رسول اکرم ﷺ درې ځلي وفرمايل چې سپيره دې شي د هغه مخ.

ځيني اصحابو کرامو وپوښتل چې هغه شخص څوک دی؟ ای رسول الله ﷺ!

رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه څوک چې مور او پلار دواړه اويايو د دوی نه د زهيرۍ او ناتوانۍ په وخت کې ده ته پاتې شي خو دی د هغوی د خدمت له امله

جنت ته داخل نه شي يعنې دا چې ونه شي كولاى د خپل خدمت په واسطه د دوى رضايت او دعا حاصله كړي.

دغه راز الله تعالى فرمايلي دي:

**وَقَضَى رَبُّكَ أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلاَ تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلاَ تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلاً كَرِيماً . الإسراء٢٣**

**ژباړه**: اوحكم وكړپروردګار ستاچې عبادت مه كوئ مګر يوازې د پاک خداى او وكړئ له مور او پلار سره احسان اونيكي، كه چېرې ورسيږي يو له دوى نه يا دواړه ستا په ژوند كې زوړتيا او زهيرى ته، نومه وايه دوى لره اف، او مه يې رټه او ووايه دوى ته ښي اونيكې خبري. د زوړتيا او زهيرى په وخت كې مور او پلار زيات خدمت او مرستې ته ضرورت لري. چې حتى كله د خپل كور او كهول غړي هم ترې غاړه غړوي او هم په دې عمر كې حواس مختل كېږي، ان تر دې چې په ډيرې لږې بې اعتنايي سره هم د دوى نازک زړونه او رقيق عواطف او احساسات جريحه دار كېږي نوځكه خونيكمرغه سړى هغه څوک دى چې په دغه حساسه مرحله كې دغه ټول نزاكتونه په پام كې ونيسي اوددوى بشپړ خدمت ته ملاوتړي اوداسې سلوک ورسره وكړي چې د دوى بشپړه خوشحالي او رضايت ترلاسه كړي، حتي د اف په اندازه كلمه هم د دوى په مقابل كې استعمال نه كړي لكه څرنګه چې رسول اكرم ﷺ په بل مبارک حديث كې فرمايلي دي: عن عبد الله بن عمرو، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « رضا الرب في رضا الوالد، وسخط الرب في سخط الوالد »

ژباړه:دپاک خداى رضا د والدينو په رضا اود ده قهر او غضب د مور او پلار په قهر او غضب كې نغښتى دى.

## پوښتنې

١- د مور او پلار د حقوقو په باره كې يو حديث شريف وليكئ.

٢- هغه مبارک آيت چې مو د والدينو د حقونو په باره كې لوستى دى تلاوت كړئ.

٣- لاندې كلمات وژباړئ: رَغِمَ – اَدرَکَ – عندک– الكبر

# د ګاونډي حقوق

**عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ وَاللهِ لا يُؤْمِنُ وَاللهِ لا يُؤْمِنُ وَاللهِ لا يُؤْمِنُ قَالُوا وَمَا ذَاكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ قال: الجار لا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ! وَمَا بَوَائِقُهُ ؟ قَالَ: شَرُّهُ.** رواه احمد في مسنده

## د ځینو کلمو معناوې:

**۱– لا يُؤْمِنُ:**مؤمن نه دی.

**۲– جَارُهُ:** ګاونډی يې.

**۳– بَوَائِقَهُ:** د ده له اذيت او آزارنه.

**ژباړه**: له حضرت ابوهريره (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص) فرمايلي دي:

قسم په خدای دی چې (کامل) مؤمن نه دی، قسم په خدای (ج) دی چې (کامل) مؤمن نه دی، قسم په خدای دی چې (کامل) مؤمن نه دی، صحابه کرامو پوښتنه وکړه: ای د الله رسوله هغه شخص څوک دی چې کامل مؤمن نه دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه ګاونډی چې ګاونډی يې له ضرر (بوائقو) نه په امن نه وي صحابه کرامو بيا پوښتنه وکړه: ای د الله رسوله! بوائق څه ته وايي؟ ويې فرمايل: شر ته.

## د پورتني مبارک حديث توضيح:

د اسلام په مقدس دين کې د ګاونډيانو د حقوقو د مراعاتولو په اړه ځانګړې پاملرنه شوې ده لکه څرنګه چې الله تبارک و تعالی په قرآن کريم کې د ګاونډيانو حقوق د مور او پلار، خپلوانو، يتيمانو او نورو د حقوقو په سلسله کې ذکر کړي دي[1]. دغه راز په پورتني مبارک حديث کې د همسايه د حقوقو په هکله زيات تاکيد راغلی دی، ځکه رسول الله ﷺ درې ځلې قسم يادکړی او ويلي يې دي: هغه څوک چې خپل همسايه ته ضرر رسوي (کامل) مؤمن نه دی. دغه راز په بل حديث شريف کې راغلي

[1]ــ د نساء سورت ۳۲ آيت

دي: هغه څوک چې د خدای(ج) او د قیامت په ورځ ایمان ولري باید له خپل همسایه سره نیکي وکړي.

او په بل حدیث کې داسې راغلي دي: چې رسول الله ﷺ فرمایلي: ډیر داسې ګاونډیان شته چې د قیامت په ورځ د خپل ګاونډي لمن نیسي او وایي:ای پروردګاره! له دې سړي نه پوښتنه وکړه چې خپله دروازه یې ولې زما پرمخ باندې وتړله او خپله پاتې ډوډۍ یې ماته رانه کړه.

دغه راز په بل حدیث کې راغلي دي هغه څوک چې پر خدای تعالی اود قیامت په ورځ ایمان لري باید له خپل ګاونډي سره نیکي وکړي.

نوځکه مسلمان ته نه ښایي چې د خپل ګاونډي له حال او احوال نه بې خبره وي، بلکې لازمه ده چې تل د ده له مشکلاتو نه ځان خبر کړي او د هغو په لیرې کولوکې ور سره د خپل توان او قدرت له مخې لازمه مرسته او همکاري وکړي.

## پوښتنې

١. د ګاونډي د حقونو په اړه یو حدیث ووایئ.
٢. الله پاک د ګاونډي حقوق د چا له حقونوسره یو ځای ذکر کړي دي؟
٣. د لاندې کلماتو معنی بیان کړئ:

لایؤمن، جاره، بوائقه

---

کتنه: په لومړني مبارک حدیث کې راغلي چې ګاونډي ته ازار رسوونکی شخص مؤمن نه دی، علماء وایي: له دې نه مطلب کامل مؤمن دی ځکه چې ګاونډي اذیت او آزار رسول ګناه ده او مسلمان د ګناه په ارتکاب سره نه کافر کېږي، بلکې یوازې ګنهګارېږي او ایمان یې له منځه نه ځي. ښوونکی دې زده کوونکو ته د ګاونډیانو د حقوقو په اړه لازیات معلومات ورکړي.

# د ښځې حقوق

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي وَإِذَا مَاتَ صَاحِبُكُمْ فَدَعُوهُ. **رواه الترمذي.**

## د ځینو کلمو معناوې:

**۱- خَيْرُكُمْ**: ډیر غوره ستاسې.

**۲- لِأَهْلِهِ**: د خپلې کورنۍ او اهل له پاره.

**۳- مَاتَ**: مړشي.

**۴- صَاحِبُكُمْ**: ستاسې ملګرى او د ژوندانه شریک.

**ژباړه**: له حضرت بي بي عایشې (رض) څخه روایت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره او بهتر له تاسې نه هغه څوک دى چې د خپل اهل لپاره غوره او بهتر وي زه ستاسوپه پرتله له خپل اهل سره غوره يم اوکله چې ستاسې د ژوند ملګرى وفات شي نوهغه د پاک خداى رحمت ته پرېږدئ او په حق کې يې د خير دعا وکړئ.

## د مبارک حديث توضيح:

له دې مبارک حديث نه معلومېږي چې د مسلمان شخص فضيلت او غوروالى په دې کې ده چې له خپلې ميرمنې او کورنۍ سره نيکي وکړي اوښې شپې ورځې ورسره تيرې او له بد اخلاقۍ او بدويلو څخه ځان وژغوري.

رسول الله ﷺ له خپل اهل او ميرمنو سره په ښه سلوک کې ترهر چاغوره او بهتر و، ځکه د دوى ټولو حقوق يې په مساويانه ډول اداء کول او هېڅوک هم نه شي کولاى له ده سره په دې برخه کې برابري وکړي.

کله چې له زوجينو څخه يو وفات شي، نو په کار ده چې تل تر تله د هغه د خير ذکر وشي او هېڅکله د هغه په اړه ناروا خبره ونه شي او له پاک خداى(ج)

ښځه ورته د رحمت دعا وشي او هم له ژړا او زاريو ښځه ځان وژغوري اوله صبراو حوصلې نه کار واخلي.

پاک خدا ی د ښځو په اړه داسې فرمايلي دي:

(( وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ)) (د البقرې سورت ۲۲۸ آيت)

**ژباړه**: او د ښځو له پاره هم په معروفه توګه هماغسې حقوق دي لکه چې د نارينوو پر هغوی حقوق دي البته نارينه په هغوی فضيلت لري.

حقيقت دا دی څرنګه چې نارينه پر ښځو باندې ځينې حقوق لري دغه راز ښځې پردوی باندې حقوق لري نوځکه پردواړو خواو باندې لازمه ده ترڅو د شرعي اصولو اوقواعدو پر بنسټ يو د بل حقوق رعايت او اداء کاندي، سره له دې چې نارينه پر ښځو باندې فضيلت لري دوی لره نه ښايي چې له ښځو سره ناوړه رويه وکړي اويا د دوی د حقوقو مراعات ونه کړي.

## د مبارک حديث ګټې:

۱– په مسلمانانو کې غوره هغه څوک دی چې له خپل اهل سره ښه رويه او غوره سلوک وکړي.

۲– رسول اللهﷺ له خپل اهل سره د غوره رويې په کولو سره له هر چانه غوره او بهتر و.

۳– کله چې ښځه يا ميړه وفات شي بايد هغه د پاک خدای رحمت ته وسپاري او د ده په باره کې له ناوړه تبصرو اوخبرو ښځه لاس واخلي اودده په حق کې د خير دعا وکړي.

# پوښتنې

۱– د ښځو د حقوقو په باره کې يو حديث شريف ووایاست.

۲– هغه آيت چې مو د ښځو د حقوقو په اړه لوستی تلاوت کړئ؟

۳– د هغه حديث شريف ګټې چې د ښځو د حقوقو په باره کې مو لوستی دی بيان کړئ؟

# پر اولادونو باندې شفقت او مهرباني کول

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: دَخَلَتْ امْرَأَةٌ مَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا تَسْأَلُ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِي شَيْئًا غَيْرَ تَمْرَةٍ فَأَعْطَيْتُهَا إِيَّاهَا فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا وَلَمْ تَأْكُلْ مِنْهَا ثُمَّ قَامَتْ فَخَرَجَتْ فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ مَنْ ابْتُلِيَ مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنْ النَّارِ. رواه البخاري

## د ځینو کلمو معناوې:

١- ابْنَتَانِ: دوې لونې.

٢- لَمْ تَأْكُلْ: ویې نه خوړه هغې ښځې.

٣- سِتْرًا: پرده اومانع.

**ژباړه:** له حضرت بي بي عایشې (رض) څخه روایت دی چې فرمایلي یې دي:
یوه ښځه چې دوې لونې یې ورسره وې ماته راغله اوله مانه یې سوال وکړ، حال دا چې له ما سره یې هم پرته له یوې خرما نور څه ونه موندل، هغه چې مې هغې ته ورکړه هغې ښځې خرما واخیسته او پرخپلو دوو لوڼو یې وویشله او خپله یې ونه خوړه او وروسته بیا پاڅېده او ولاړه، وروسته بیا محمد ﷺ کور ته داخل شو او ما دا قصه ورته وکړه. رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه څوک چې امتحان کړای شي په دغو نجونو اوله دوی سره نیکي اواحسان وکړي دغه نجوني اوله دوی سره نیکي کول د هغه شخص لپاره د دوزخ له اور څخه پرده او حجاب ګرځي.

## د مبارک حدیث توضیح:

له دې مبارک حدیث نه معلومیږي هر هغه څوک چې پر خپلو لوڼو باندې مهرباني اوشفقت ولري او له دوی سره نیکي، احسان او ښه رویه وکړي او په سختو حالاتو کې له دوی سره له صبر او حوصلې نه کار واخلي، پاک خدای هغوی د ده لپاره د دوزخ له اورنه د نجات وسیله او سترګرځوي.

دا چې په دې مبارک حدیث کې د نجونو درلودل د ابتلا په کلمې سره تعبیر شوي دي، دې خبرې ته اشاره ده چې د ډیرو نجونو درلودل د عرف او عادت له مخې د ځینو خلکوپه نزدعیب ګنل کېږي. حال دا چې د پاک خدای په نزد داسې نه ده لکه څرنګه چې فرمايي:

((وَعَسَى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌلَكُمْ)) د البقرې سورت ۲۱۶ آیت

ښايي چې تاسې به کوم شی بدګنئ حال دا چې هغه به ستاسې لپاره خير او بركت وي

بايد مور او پلار د شريعت له احكامو سره سم چلند وكړي يعني لكه څرنګه چې پر خپلو نارينه اولادونو باندې له ترحم او شفقت نه كار اخلي دغه راز بايد له ښځينه اولاد سره هم هماغه ډول چلند وكړي او هېڅكله د دوی په منځ كې توپير ونه كړي.

## د مبارک حدیث ګټې:

پر اولادونو باندې شفقت کول او د نجونو او زامنو تر منځ توپیر نه کول انسان د دوزخ له اور څخه ژغوري.

## پوښتنې

۱– هغه حديث شريف وژباړئ چې پر اولادونو باندې د شفقت په هكله مو لوستی دی.

۲– د هغه حديث شريف ګټه چې پر اولادونو باندې مو د مهربانۍ او شفقت په اړه ويلی دي بيان كړئ!

۳– لاندې كلمات معنا كړئ:

اِبنتان –لم تأكل – سترا

# حلال کسب

**عَنِ الْمِقْدَامِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ وَإِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَام كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ.** رواه البخاري.

## د ځینو کلمو معناوې:

۱- **الْمِقْدَامِ**: د یوه صحابي نوم دی.

۲- **مَا أَكَلَ**: نه یې دی خوړلی.

۳- **قَطُّ**: هیڅکله.

۴- **خیراً**: غوره اوبهتر.

**ژباړه**: له مقدام بن معد یکرب څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: هېڅ‌چا هېڅ کله له هغه طعام نه غوره طعام نه دی خوړلی چې په خپل لاس سره یې ګټلی وي او د خدای پیغمبر داود علیه السلام به هم د خپل لاس له ګټې نه خوراک کاوه. دا حدیث بخاری روایت کړی دی.

## د مبارک حدیث توضیح:

د اسلام د مقدس دین دارشاداتوله مخي هیڅ طعام دومره سپېڅلی او خوندور نه دی لکه هغه چې د انسان د خپل لاس له کارڅخه لاس ته راغلی وي. کله چې تاریخ ته نظر واچوو وینو چې د الله رسول سیدنا داود علیه السلام سره له دې چې د رسالت درنده دنده یې په غاړه درلوده بیایې هم خپله روزي په کاراو زیار او د خپل لاس په تناکو پیدا کوله او خپل ژوند به یې د کسب اوکارله مدرکه پرمخ بیوه.

دده کار زغرې یعني جنګي لباس جوړول وو، ځکه پاک خدای ده ته داسې معجزه ورکړې وه چې او سپنه به یې په لاس کې د موم په شان نرمه شوه نوځکه ده به د

تارونو په څیر تاووله اوهر ډول شی چې به یې غوښته هماغه به یې ترې جوړکړ. داود علیه السلام لومړنی سړی و چې زغره یې اختراع کړه. ده به دغه وسائل جوړول او د هغو د خرڅولو له مدرک نه به یې د خپل کور او کهول نفقه برابروله.

ځینې عالمان وایي: رزق او روزي باید په مسنونه ډول سره ترلاسه او مصرف شي، مسنونه طریقه دا ده چې انسان باید مفت خوراو د نورو د غاړې پیتی نه وي، بلکه خپله زیار وباسي، کار وکړي او له لاس ته راغلې ګټې څخه د ځان او خپل فامیل نفقه تامین کاندي او د پاک خدای پر دغه فضل او مرحمت باندې شکر وباسي چې ده ته یې د داسې غوره کار د سرته رسولو توفیق ورپه برخه کړی دی او داسې نه وي چې په خپل زورباندې مغرورشي او هغه د ځان له خوا وبولي، ځکه هر څه ده ته پاک الله ور کړي دي. د اسلام مقدس دین خلک له لتۍ او تنبلۍ څخه په کلکه منع کړي، او له معذورو او معیوبو کسانو څخه پرته چې د کار قدرت او توانایي نه لري پر نور کسانو باندې یې سوال اوګدایي کول حرام او ناروا ګرځولي دي.

## پوښتنې

١– زغره د کوم پیغمبر اختراع وه؟

٢– په مسنونه طریقې سره د روزۍ پیدا کول یعنې څه؟

٣– د غیر معذورو خلکو لپاره سوال څه حکم لري؟

# د ډوډۍ خوړلو آداب

**عَنْ عُمَرَ ابْنِ أَبِي سَلَمَةَ يَقُولُ كُنْتُ غُلَامًا فِي حَجْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ فِي الصَّحْفَةِ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا غُلَامُ سَمِّ اللَّهَ وَكُلْ بِيَمِينِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ.** متفق عليه

## د ځينو کلمو معنی:

**۱- غُلَامًا:** ماشوم.

**۲- حَجْرِ:** څنګ او دلته يې مطلب تر تربيې لاندې ژوند کول دي.

**۳- سَمِّ اللَّهَ:** بسم الله الرحمن الرحيم ووايه.

**ژباړه:** له عمر بن ابی سلمة (رض) څخه روايت دی چې فرمايلي يې دي:

زه ماشوم وم چې د رسول الله ﷺ په څنګ او د ده تر روزنې لاندې مې ژوند کاوه. د ډوډۍ خوړلو وخت کې مې لاس په کاسه کې هرې خواته حرکت کاوه. پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) ماته وفرمايل د ډوډۍ خوړلو په وخت کې بسم الله ووايه.پخپل ښي لاس ډوډۍ وخوره او له خپلې مخې نه او له هغه ځای نه چې درته نژدې وي ډوډۍ وخوره.

## د مبارک حديث توضيح:

عمر ابن ابي سلمه رضی الله تعالی عنهما د مسلمانانو د مور بی بی ام سلمة زوی و چې له پخواني ميړه نه ورپاتې و نو ځکه د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم تررروزنې لاندې و د خپلې مور ام سلمة(رضی الله عنها) سره اوسېده. رسول الله ﷺ عمر(رض) او د ده له لیارې نه ټول امت ته د ډوډۍ خوړلو آداب په دريوو ټکوکې خلاصه کړل.

لومړی دا چې د ډوډۍ خوړلو پيل سره سم دې بسم الله الرحمن الرحيم ووايي. دويم دا چې ډوډۍ دې په ښي لاس وخوري. درېيم دا چې د کاسې له هغې څنډې

څخه دې استفاده وکړي چې ده ته نږدې ده یعنی دا چې د بل چا مخې ته دې لاس نه غځوي او دا ټول هغه آداب دي چې له اجتماعي لحاظه او هم د صحي او روحي آساساتو له مخې د هر چاپاره او په هر عصر اوهرې زمانې کې ضروري او حتمي ګڼل کېږي.

## د مبارک حدیث ګټې:

١- پرمشرانو باندې لازمه ده چې کشرانو او تر خپلې تربیې او روزنې لاندې کسانوته د ډوډۍ خوړلو آداب ورزده کړي.

٢- د ډوډۍ خوړلو په پیل کې د بسم الله الرحمن الرحیم ویل او پر ښي لاس باندې ډوډۍ خوړل ور وښیي، له خپلې مخې نه ډوډۍ خوړل مستحب دي.

٣- د بل چا له مخې څخه ډوډۍ اخیستل مکروه کاردی، البته د نورو احادیثو له مخې د میوې خوړلو په وخت کې د دې شرط مراعات کول ضروري نه دي.

## پوښتنې:

١. رسول الله صلی الله علیه وسلم عمر ابن ابي سلمة ته د ډوډۍ خوړلو د آدابو په اړه څه لارښوونه وکړه؟

٢. سم الله څه معنی لري؟

٣. په ښي لاس ډودۍ خوړل څه حکم لري؟

# د اوبو څښلو آداب

عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ ثَلَاثًا. **متفق عليه** مسلم په بل روايت کې زياتوي چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم به فرمايل: إِنَّهُ أَرْوَى وَأَبرَأُ وَأَمرَأُ.

## د ځينو کلمو معناوې:

١- يَتَنَفَّسُ: ساېې واېستله.

٢- فِي الشَّرَابِ: د اوبو څښلو په وخت کې.

٣- أَرْوَى: ښه تنده ماتوونکي.

٤- أبرَأُ: زيات روغتيا ښښونکي.

٥- أمرَأُ: ډيرخوندور اوهضم کوونکي.

**ژباړه**: له حضرت انس (رض) څخه روايت دی چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم به د اوبو څښلو په وخت کې درې ځلې سا اخيستله يعنې کله چې به يې اوبه څښلې نو د اوبو لوښی به يې درې ځلې له خپلې مبارکې خولې څخه لرې کاوه، او سابه يې ويستله.

د مسلم د روايت ژباړه: دغه ډول اوبه څښل ښه تنده ماتوونکي، زياته روغتيا ښښونکي او ډير خوندور او هضم کوونکي دي.

## د مبارک حديث توضيح:

انس (رضی الله عنه) چې يو جليل القدر صحابي و او هم لس کاله د رسول الله ﷺ په خدمت کې و. د پيغمبرصلی الله عليه وسلم د اوبو څښلو سنت داسې بيانوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به اوبه په درې ځلې سا اخيستلو څښلې او دغه راز

اوبه ځښنل يې د روغتيا لپاره زيات ګټور او هم زيات خوندور بللي دي نو ځکه ښايي چې هر څوک د اوبو ځښنلو په وخت کې دغه ډول سلوک غوره کړي ځکه د رسول الله ﷺ ټول افعال او اقوال له حکمت اوغوره پند او ګټې څخه خالي نه دي.

**د مبارک حديث ګټې:**

۱– په درې ځلې سا اخيستلو سره اوبه ځښنل صحت ته ګټه لري.

۲– په درې ځلې سا اخيستلو سره او به ځښنل مستحب کار دی.

## پوښتنې

۱– د پورتني مبارک حديث د ګټو په اړه درې دقيقې خبرې وکړئ.

۲– له دې مبارک حديث نه څه ډول پنداخلو؟

# د مجلس آداب

**عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْجِدَ وَهُمْ حِلَقٌ فَقَالَ مَالِي أَرَاكُمْ عِزِينَ.  رواه ابوداود**

**د ځينو کلمومعناوې:**

**۱- دَخَلَ:** ننوت، داخل شو.

**۲- حِلَقٌ:** جلا جلا حلقې.

**۳- عِزِينَ:** جلا جلا.

**۴- مَالِي أَرَاكُمْ:** ولی تاسو وينم (څرنګه تاسو وينم )

**ژباړه:** له جابر (رض) څخه روايت دی چې فرمايلي يې دي:

رسول الله ﷺ مسجد ته ننوت او اصحاب حلقه حلقه ناست وو نو رسول الله ﷺ وفرمايل: ولې تاسو وينم چې ځانله، ځانله ناست ياست او په يو ځای کې سره غونډه شوي نه ياست.

## د مبارک حديث توضيح:

په دې مبارک حديث کې د اسلام ستر پيغمبر ﷺ د مسلمانانو اتفاق او اتحاد ته ان د دوی په ورځنۍ ولاړه او ناسته کې اشاره فرمايلې او دوی يې دې کار ته هڅولي، له همدې کبله وو چې يوه ورځ له کورنه راووت او صحابه کرام يې وليدل چې متفرق او جلا جلا سره ناست دي، د دوی دغه کار يې ناوړه وليد او په تعجب سره يې وويل چې ولې زه تاسې جدا جدا وينم. ځکه يو ځای کېناستل له يوې خوا د اتحاد او اتفاق نښه ده چې د مسلمانانو لپاره غوره عمل ګڼل کېږي او له بلې خوا يو د بل له خبرو څخه د ګټې اخيستلو زمينه برابروي او د دوی ترمنځ د مينې، ښې ورورۍ او محبت د ټينګښت سبب هم ګرځي.

## د مبارک حدیث ګټې:

رسول الله ﷺ د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم په عادي ناستو کې هم بیلتون او تفرقه غندلې او دوی یې اتفاق او اتحاد ته دعوت کړي دي چې دا کار د پاک الله (ج) د دې مبارک آیت سره چې فرمایي (ولا تفرقوا) سمون لري.

مسلمانان او اسلامی نړۍ باید د پورتني حدیث له پراخه مفهوم نه پند واخلي او په خپلو منځو کې د اتفاق او اتحاد اړیکې ټینګې کړي ځکه په اتفاق او اتحاد کې قوت او په تفرقه او اختلاف کې کمزوري ده.

## پوښتنې

۱– د (عزین) د کلمې معنې څه ده؟

۲– یو ځای کېناستل څه ګټې لري؟ بیان یې کړئ.

۳– هغه حدیث چې مو د مجلس د آدابو په باره کې لوستی دی نورو ته تشریح کړئ.

د نشه يي توکو پر ضد مبارزې وزارت

لا ضرر و لا ضرار في الا سلام (الحديث)

زيان رسول خپل ځان ته او يا نورو ته په اسلام کې روا نه دي.

نيشه يي توکي نجس شيان دي او الله (ج) مسلمانان د نجسو شيانو څخه منع کړي دي او هغه يې حرام ګرځولي دي.